# د ملي پیوستون پروګرام
# (NSP)

## لرليد

دملي پيوستون پروگرام چي دافغانستان اسلامي دولت دارزښتناكو او جوړونكو كړنلارو له نظره ملي او ځانګړي پروگرام دي د (۲۰۰۳) كال په نيمايي كي پيل شو . دغه پروگرام د منځ ته راتلو راهيسي د نړيوال بانك او نړيوالي پرمختيايي ټولني له ملاتړ څخه برخمن دي ، بنستيزه موخه يي دبيلابيلو سيمه ايزو بنستونو دجوړولو او عملي كولو له لاري دسيمي داوسيدونكو دبيوزلي او غريبي دكچي كښته كول دي دملي پيوستون پروگرام دافغانانو له دود او دستور سره سم وده كړي او له حشر يا ډله ايز كار دله ايزي تصميم نيوني له دود نه په گټي اخيستني سره داسانتياو برابر ولو ديووالي ،برابري او اسلامي سپيڅلوارزښتنو پر بنسټ دستونځو داوارولو لپاره را منځته شويدي



د قالينو اوبدلو پروژه: كليوالو ښځوته د ګټي سرچينه

## دپروگرام اساسي اصول :

دملي پيوستون پروگرام لومړني وسيله ده چه دټولنيزو جوړښتونو ياني دسيمه ايزو پرمختيايي شورا گانو د جوړولو او پر پښو درولو سره غواړي دسيمي داوسيدونكودژوند كچه لوړه كړي تر څو كليوال دخپل ژوند په اړه پخپله تصميم ونيسي ، دكليوالي ټولنو پياوړتيا او په ډله ايزه توگه دكارونو تر سره كول دمصونيت په رامنځته كولو او ټينگولو كي مهم او ارزښتناك رول لري دغه پروگرام دټولو كليوالو په ځانگړي ډول دزيان منونكو اوبيوزلو خلكو ملاتړ كوي .



د كليوالي پرمختيايي شورا ټاكني: كليوال اوسيدونكي د ټاكنو په خپلواكه بهير كي ونده اخلـ

## هدفونه :

دملي پيوستون پروگرام هدف دادي چي د سيمه ايزواو پر خپلو متو ولاړوټولنو درامنځته كيدو لپاره ښه بنسټونه جوړ كري او دهغو پروژو ملاتړ وكړي چي دتوليد ي او زير بنايي اسانتياو په رامنځته كولو كي اغيزه لري او دكليو ، باندو او خلكو په ژوند كي بدلون راولي .

## كاري تگلاره :

دملي پيوستون پروگرام ديوي كميتي تر لارښوني لا ندي چي مشري يي دافغانستان داسلامي جمهوريت دويم مرستيال په غاړه لري او داړوندو وزارتونو استازي ،دمرستندويو هيوادونو استازي ( دناظر په توگه) ، دملي پيوستون پروگرام اجرائيوي دايركتر په كي گدون لري دكاري مالي كړنو او پروگرامونو څارنه كوي . له دي پروگرام سره دنړيوالي ټولني د ملاتړ په غرض اداري سلاكارانو ټيم مرسته كوي ملي پيوستون پروگرام چي دمرستندويو تولنو په مرسته كلي سره يو ځاي كوي اودكليو په كچه دسيمه ايزو استازو درهبري ننگه كوي او س مهال د(۲۹) غير دولتي سازمانونو او دملگرو ملتونود استازي په همكاري او ملتيا كار كوي او (۳٤) ولايتونه يي تر پوښښ لاندي نيولي دي

- دملي پيوستون پروگرام په ځواكمنه توگه دپرمختيا لامل گرځيدلي او كوښښ كوي.

كليوال وهڅوي څو په خپله مهمي او ارزښتناكي پريكړي وكري اودپرمختيا په ټولو پړاوونوكي برخه واخلي او له خپلو منابعو څخه گټه پورته كړي. كلي دمرستندويه موسسوپه مرسته خپل استازي او رهبري وتاكي او په آزاده توگه خپلي كليوالي پرمختيايي شوراگاني جوړي كړي.



د كانال جوړولو پروژه: د زراعتي محصولاتو د كجى لوړونه

دكليو پراختيايي شوراگاني دمرستندويوموسسو په مرسته دكليو هغه پرمختيايي اړتياوي چي لومړيتوب لريي په گوته كړي دكليو پرمختيايي پلانونو ته وده او پراختيا وركړي دكليو له اوسيدونكو سره يوځاي دپروژو د نوښت نه ډك پلانونه طرح او جوړ كړي .

دكليو پراختيايي شوراگاني دنده لري چي دسيمي شته اومنابع يو موټي كړي او خپل مالي امكانات چي دملي پيوستون پروگرام له خوا هر كلي ۲۷۰۰۰امريكايي دالره دپرمختيايي پلانونو لپاره مرسته تر لاسه كوي په ښه توگه ولگوي كليوالي پرمختيايي شوراگاني دپروژو او دكار دتولو پړاونو مسوليت په غاړه لري كليوال رهبري كوي تر څو پروژي په سمه توگه پلي كړي .

## دملي پیوستون لاس ته راوړني :

**دپروګرام پو ښښونه :**

دملي پیوستون پروګرام( ۲۰۰۸) کال د نومبر تر (۲۰) نیتي پوري  تولي (۳۵۱) ولسوالي د هیواد په (۳٤) ولایتونو کي تر خپل پوښښ لاندي راوستي دي .

## دپراختیایي شوراګانو ټاکني او روزنه :

- د( ۲۰۰۸) کال د نومبر تر (۲۰) نیټي پوري (۲۱۷۰٦) دکلیو پراختیایي شوراګاني دازادو انتخاباتو له لاري منځ ته راغلي دي دتولو کلیو ښځو او نارینه وو پدغو انتخاباتو کي برخه اخیستي وه دکلیودپراختیایي شوراګانو روزني مخکي لدینه چه په انتخاباتو کي برخه واخلي ،او دخلکوبرخه اخیستنه د پراختیایي پلانونو په اغیزمنتوب کي  دیر ښه رول لوبولي دي .

د نومبر د میاشتي تر (۲۰) پوري (۲۱٤٦٥) پراختیایي شوراګانو د خپلو پروژو پراختیایي پلانونه طرح کړي دي.

## د پیسو وجه:

- د(۲۰۰۸) کال د دسمبر تر (۲۵) نیټي پوري دتولو (٥٦۷٥٥٦۸۰٤)وعده شوو دالرو څخه (٥٥٦٤۸٦١٦۷) دالر د(۱۹۱٦۳) پروژو لپاره ورکړل شویدي .

## په کلیو کي په پروژو باندي سرته رسیدلي کار :

- دهغه لومړیتوبونو په نظرکي نیولو سره چه کلیو هغه دخپلو لومړیتوبونو په توګه ټاکلي.

ملي پیوستون پروګرام د (۲۰۰۸) کال د دسمبر تر (۲۵) نیټي پوري(  ۳۹۸۹۹) پروژي منظوري کړیدي دغه پروژي داوبو لګولو د تاسیساتو ، سړك  او پلونو، ښوونځیو ، داوبو رسولودشبکو ، کلینیکونو ، عایداتي پروژو او روزنیزو مسلکي پروژو څخه عبارت دي .

اکثرا دغه پروژي په لا ندي نیو سکتورونو کي شاملي دي :

اوبه، روغتیا سا تنه (۲۵٪) ترانسپورت (۲۲٪) اوبه لګول ( ۱۷٪) بریښنا رسول (۱٦٪) ښوونه او روزنه (۱۲٪) او نوري پروژي (۲٪).

## دښوونځیو په لور ددریځي پروژي :

- د ښوونځیو په لورد دریځي پروژي دهغو پروژو له جملو څخه دي چه دملي پیوستون په مرسته دښوونځیو دبیا رغوني او جوړوني په موخه د ولسوالیو په کچه را منځ ته شوي د سیمه ایزو پرمختیایي شوراګانو داستازو په ګدون دښوني او روزني اونورو دولتي ادارو دولسوالیو ۲۵ کمیتي جوړي شوي او هغوي ته ددي لارښونه وشوه چي دښونځیو دبیارغوني او جوړوني څخه سر پرستي وکړي.

د ۲۰۰۸ کال دنومبر تر ۲۰ مي نیتي پوري ۳٤ښونځي بشپړاو دپو هني محترم وزارت ته سپارل شویدي همدارنګه د ۳۸ ښوونځیو   کار دوام لري .



د کلیوالي پرمختیایي شورا کنفرانس: د همکاري او همغږي را منځته کول



د څښلو د اوبو پروژه: د څښلو پاکو اوبو ته د کلیوالو اوسیدونکو لاسرسي



د خیاطي پروژه: د روښانه راتلونکي په هیله د ښځو مهارتونه زیاتول

# د کليوالي سړکونود جوړولو ملي پروګرام (NRAP)

## (پخوا د کار موندنې ملي پروګرام په نوم يادېده)

### شاليد (پس منظر)

د بېړنی‌کارموندنې ملي پروګرام په ۱۳۸۱ کال کې پيل شو، د دې پروګرام اصلي موخه دا وه چې له يوې خوا کليوالي خلکو سره د بنسټيزو جوړښتونو په جوړولو کې مرسته وکړي او له بلې خوا د کليوالو کارګرو لپاره د کار و بار د موندلو زمينه چمتو کړي. د بېړنی‌کارموندنې د ملي پروګرام د ارزونې په نتيجه کې چې د ۱۳۸۴ کال په لومړيو کې د نړيوال بانک، د کارګرو نړيوال سازمان او د افغانستان د حکومت لخوا په ګډه تر سره شوه، دې پروګرام ته له سره کتنه وشوه او د هغې جوړښت ته بدلون ورکړل شو تر څو په افغانستان کې لا زياتو پرمختيا پلوه مرستو ته د اوښتون يوه آسانه لار ومومي د نوي پړاو له پيله د کار موندنې بېړنی ملي پروګرام " کليو ته د سړک جوړولو ملي پروګرام" ونومول شو چې په هغې کې زياته پاملرنه د کليوالي سړکونو د جوړولو لورته شوېده ترڅو کورنی او کليوالي ټولنې د اړتيا وړ خدمتونو او مارکېټونو ته لار ومومي.



د غزني د انډړ په ولسوالی کې د يوه سېلبر د جوړونې کار، تله ۱۳۸۳

### بنسټيز دليلونه

کليو ته د سړک جوړولو ملي پروګرام د پرمختللي کار و بار ملاتړ کوي تر څو دا يقيني کړي چې ټولې کليوالي ټولنې بنسټيزو اسانتياوو، خدمتونو او د اړتيا وړ موادو ته لاس رسي لري. همدا ډول د ځانګړو وګړو او کورنيو سره مرسته کوي تر څو د کار او روزګار د چمتو کولو له لارې د ژوند ناخوالي کابو کړي. دا پروګرام کليوته د بنسټيزو کيفيت لرونکې پر مختيا ته پاملرنه کوي او داسې يوه کړنلاره پر مخ بيايي چې د هغې له برکته بېوزلو خلکو ته د سملاسټي روزګار د چمتو کولو له لارې هوسايي او خوندي ژوند ور په برخه شي.

### موخې

کليو ته د سړک جوړولو ملي پروګرام لاندينې موخې لري:

- په کليو کې د سړکونو يوه با کيفيته شبکه جوړول کوم چې ټول کلي د عمومي لارو او اسانتياوو لکه مارکيټونو، روغتيايي مرکزونو او ښوونځيو سره ونښلوي.
- د ټولو کارونو لپاره د داسې کړنلارو پر مخ بيول چې په هغه کې زيات شمېر وګړي پکار وګمارل شي او همدا ډول خصوصي سکتور ته د برخه اخيستلو له لارې د کار و بار او روزګار د چمتو کولو د امکاناتو زياتول.
- د عملي کار و بار له لارې د کليوالي ټولنو او خصوصي سکتور د ظرفيت پياوړي کول تر څو هغوئ وکولاې شي د عمومي ترانسپورت اسانتياوې، اداره، چمتو او خوندي کړي.



د کابل د شکر درې په ولسوالی کې جوړ شوي سېلبر، لړم ۱۳۸۳

### د پروګرام پلي کولو لارې چارې

- کليو ته د سړک جوړولو ملي پروګرام د ړومبيتوب يو ګډ ملي پروګرام دی چې د کليو د بيا رغاونې او پراختيا وزارت او د عامو ګټو د وزارت لخوا پر مخ بيول کيږي. او د پروګرام د پرمخ بېولو لارښوونکې وزارت د کليو د بيا رغاونې او پراخيا وزارت دی چې په راتلونکې کې په وار سره بدلون مومي.
- د دواړو وزارتونو تر څارنې لاندې د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداره (UNOPS) دا پروګرام پلي کوي. د پروګرام کارونه خصوصي سکتور ته په اجاره ورکول کيږي.
- د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداره د کليوالي سړکونو، د سړکونو د مخ د جوړښت او د هغو د معيارونو او نورمونو په جوړلو او ساتنه کې تخنيکي مرسته کوي. بر سېره پردې د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداره د دواړو وزارتونو سره د خدمتونو د چمتو کونې، قرار داد کولو او مالي چارو د اداري او ارزونې په هکله د هغوي د ظرفيت پياوړتيا په برخه کې مرسته کوي.



د کابل د ده سبز د ولسوالی د علي خيلو جوړ شوي ښوونځی لړم ۱۳۸۳

### تر نه پورې د لاسته راوړنو لنډيز

- **د کليوالي سړکونو بيا رغاونه:** د هېواد د ۳۴ ولايتونو په ۳۱۲ ولسواليو کې د ۹،۷۹۴ کيلومتره سړکونو بيا جوړونه.
- **د پلونو او نورو ترانسپورتي بنسټيزو جوړښتونو بيا رغاونه او جوړونه:** د هېواد د ۲۷ ولايتونو په ۶۵ ولسواليو کې د ۱،۵٦۸ مترو په اوږدوالي د ۱۰۸ پلونو، ٦،۳۹٦ پلچکونو او خوړونو (سېلبرونو)، د ٦٤،۹۳٦ مترو په اوږدوالي ساتندوي دېوال، جوړول او يا بيا رغاول.
- **د کليوالي بنسټيزو جوړښتونو جوړول او بيا رغاونه:** د دې پروګرام له لارې ۳۸۴ د اوبو لګولو وړې شبکې، ۹۵ ښوونځي، ۱۴ روغتيايي کلنيکونه، ۴۴ د څښاک د اوبو زېرمې، او ۲۰۴ ځاګانې د لاسي پمپونو سره جوړې او يا هم بيا رغاول شوي دي. سر بېره پردې د کارموندنې بېړنی ملي پروګرام ۱۰۵ بېوزلو کورنيو ته چې د باميانو په ولايت کې بودا مجسمې ته څېرمه د غرونو په څمڅو کې اوسېدل کورونه ودان کړي دي.

* **د کار موندنې د امکاناتو چمتو کول:** د پورتنیو پروژو د نوي جوړونې او بیا رغاونې له امله ټول ټال ۱٤،۳۰٤،۰۲۰ کاري ورځې رامنځته شوي دي.
* **د پخوانیو جګړه مارو روزل:** د دې پروګرام په چوکاټ کې د کلیوالي روزګار د ملاتړ پروژه د پخوانیو بې وسلې شوو جګړه مارانو لپاره د ۱۳۸۳ کال د زمري په میاشت کې پیل شوه تر څو هغو ته د روزګار امکانات چمتو شي. تر نه پورې ټول ټال ۳،۰۲۲ پخواني جګړه ماران د سړکونو د جوړونې په برخه کې د تخنیکي مرستندویانو او یا څارونکو په توګه روزل شوي دي. سر بېره پردې حرفوي یا فني روزنې د ۴۶۶ بې وسلو شوو وګړو لپاره د هېواد په ۱۹ ولایتونو کې پدې توګه تر سره شوي دي: نجاري (۱۰۳ تنه)، د سیمانو تاوول (۲۲ تنه)، میخانیکي انجنیري (۱۱۴ تنه)، معماري (۶۴ تنه)، ګیین اوبدل (۷ تنه)، نل زغول (۷۶ تنه) او پرېښنایي انجنیري (۸۰ تنه).
* **ژمنې مرستې:** په څو تېرو ژمو کې د هېواد د څلورو ولایتونو ۱،۱۲۹ کیلومتره سړک د واورې څخه پاک شوي ترڅو ترانسپورتي لارې خلاصې وساتلې شي.
* **د ظرفیتونو پیاوړتیا:** د کلیو د بیا رغاونې او پراختیا وزارت د ۱،۴۵۰ مامورینو لپاره ۵۶ تخنیکي روزنیز کورسونه دایر شوي دي.

## د ۱۳۸۷ کال لپاره پلان

د راتلونکي کال لپاره پلان شوې عمده فعالیتونه په لاندې ډول دي:

* د ۱،۲۲۵ کیلو متره کلیوالي سړکونو جوړول او بیا رغاونه
* د ۳،۰۰۰ کیلو متره بنستیزو سړکونو ساتنه

## مالي معلومات ( د ۱۳۸۷ کال دپاره ۸۳،۰۷۰،۰۰۰ پانګه ضرورت دی)

| ۱۳۸۷ کال | | | |
|---|---|---|---|
| د ۱۳۸۷ کال منل شوې بودجه | د ۱۳۸۷ کال ټوله لاس ته راغلې پانګه | د ۱۳۸۷ کال کمبوده پانګه | بسپنه ورکوونکي |
| ۳٦،۵۱۰،۰۰۰ میلونه امریکایي ډالره | ۲۱،۳۳۰،۰۰۰ میلونه امریکایي ډالره | ۳٦،۵۱۰،۰۰۰ میلونه امریکایي ډالره | د اروپا کیمسیون، نړیوال بانک، د انګلستان نړیواله پرمختیایي اداره، جاپان، PSIB |
| ۱۳۸۷–۱۳۸۸ کال | | | |
| ۵۰۰ میلیونه ډالره د پنځه کالو دپاره بودیجه پکار دی | | | |



د قرغې د بند څخه د پغمان د طاق ظفر پورې د سړک پخول چې په هغې کې بې وسلې شوي صاحب منصبان او سرتېري د سړک جوړولو په برخه کې روزل کیږي، کابل ۱۳۸۴



د تخار ولایت د ورسج پله د جوړونې کار، سرطان ۱۳۸۴



د بدخشان ولایت د یفتل یاوان د سړک جوړونې کار ۱۳۸۴

# د افغانستان لپاره د کوچنيو پانګو د اچونې او پورونو اسانتياوې (MISFA)

## شاليد (پس منظر)

د افغانستان لپاره د کوچنيو پانګو د اچونې او پورونو اسانتياوې (مسفا) د افغانستان د حکومت لخوا د ۱۳۸۲ کال په غبرګولي کې په کار پيل کړي دي. د دې پروګرام له لارې مالي خدمتونه په کليوالي سيموکې چمتو کيږي چيرته چې رسمي بانکي خدمتونه شتوالی نه لري. د هغې مودې راهيسې مسفا يو شمېر د پرچونو مالي خدمتونو موسسو ته پانګه برابروي کوم چې په زياته پيمانه مالي خدمتونه بېوزلو او زيانمنونکو وګړو ته چمتو کوي. همدا ډول نوموړی پروګرام د موسساتي جوړونې ملاتړ کوي او بېوزلو مشتريانو ته پانګه برابروي.



په باميانو کې د مسفا د پور په ملاتړ د لاسي کارونو يو پلورنځی.

## بنسټيز دليلونه

مسفا د خپلو مالي خدمتونو له برکته د هېواد په کليوالي سيمو کې په تېره بيا بې وزلو او زيانمنونکو خلکو ته د هغوئ د پايښتناکه روزګار د لا پياوړتيا په لاره کې يو ډېر مهم رول لوبوي، تر څو نوموړي کورنی او وګړي وکولای شي چې خپل ژوند ناخوالي کابو کړي. مسفا ته ګڼ شمېر بسپنه ورکونکي پانګه چمتو کوي. نوموړي پروګرام د کوچنيو پانګو اچونې په برخه کې د يو عمده منځګړي په توګه کار کوي او سر بېره پر دې د پرچونو مالي خدمتونو د موسسو د اداري ظرفيتونو په پياوړتيا کې مرسته کوي.

## موخې

د مسفا مهمې موخې پدې ډول دي:

- د ښاري او کليوالي بېوزلو لپاره د پور ورکونې او پانګه ساتنې امکاناتو منځته راوړل تر څو په هېواد کې اقتصادي او د روزګار امکانات پياوړي شي.
- د پرچونو مالي خدمتونو موسسو په خپلو پښو درول کوم چې مالي خدمتونه او د مالي ادارې په هکله بنسټيز مهارتونه چمتو کوي.
- د دغو مالي موسسو د کاري ظرفيتونو پياوړي کول تر څو هغوئ د دې جوګه کړي چې د افغانانو لخوا اداره او پرمخ بوتلل شي.



د مسفا پور په کابل کې د ګل پلورنې د يوه هټی وال سره د هغې د کار و بار په ډېرښت کې مرسته وکړه.

## د پروګرام د پلي کولو لارې چارې

- مسفا د کوچنيو پورونو په چمتو کولو سره بېوزلو او زيانمنونکو وګړو لکه ښځې، معيوبينو او د کار له پلوه بېوزلو خلکو ته په پراخه پيمانه مالي خدمتونه برابروي. په عمومي توګه د ۱۰۰ څخه تر ۷۰۰ ډالره پورې پورونه چې ۴،۸۵۰ – ۳۳،۹۵۰ افغانی کيږي د ۳ څخه تر ۱۲ مياشتو لپاره ورکوي. څېني پور ورکونکي موسسې تر ۶۰۰۰ ډالرو (۲۹۱،۰۰۰ افغانيو) پورې ځانګړې پورونه هم ورکوي.
- مسفا پورونه او پانګه چمتو کوي. پورونه د کليوالي کورنيو لپاره د ۴ – ۶ مياشتو پورې ورکول کيږي. کله چې دا پورونه بېرته ورکړل (پرې شي) نو لاسته راغلې پيسې بيا په پور ورکول کيږي. د پانګې زياته برخه د مالي موسسو په واسطه مشتريانوته د خدمتونو د چمتو کولو، د کارمندانو د روزنې او په کليوالي سيمو کې د خدمتونو د چمتو کولو په مرکزونو لګيږي. هغه پانګې چې مالي موسسو ته ورکول کيږي ښايي د ۳ – ۴ کلونو په ترڅ کې را لږې شي او داسې اټکل کيږي چې نوموړي موسسې به د پنځه کلونو په ترڅ کې پخپلو پښو ودريږي. مسفا د مالي موسساتو څخه د خدمتونو د چمتو کولو په بدل کې فيس اخلې کوم چې به مسفا د دې جوګه کړي چې د ۲ – ۳ کلونو په ترڅ کې پخپل ځان متکي شي.



په مالي چارو کې د مسفا د مالي خدمتونو د مرستندويه موسسو روزل.

## تر ننه پورې د لاسته راوړنو لنډيز

- **مقررات او کړنلارې :** د افغانستان بانک د وړو مالي خدمتونو د تر سره کولو سکتورونو لپاره قوانين (کړنلارې) چمتو کړي. اوس مسفا د افغانستان بانک او د ماليې د وزارت سره يو ځاي کار کوي تر څو د وړو مالي خدمتونو موسسو لپاره مقررات برابره کړي چې د خپلواکو موسسو په نوم راجستر شي.
- **مسفا د يوې خپلواکې موسسې په توګه:** مسفا د کليو د بيا رغاونې او پراختيا وزارت په چوکاټ کې د پرچونو مالي خدمتونو د سکتور لپاره د يو عمده مالي منځګړي په توګه په کار پيل کړي دي. اوس داسې هلې ځلې روانې دي چې مسفا د افغانستان د پانګه اچونې د ملاتړ اداره (AISA) کې د يوې خپلواکې موسسې په توګه چې د هغه د مشرانو ډله (دډايرکټرانو بورډ) به د حکومت او بسپنه ورکوونکو د استازو څخه جوړ شوي دي، ثبت شي.
- **د سکتور پراختيا:** ددې پروګرام (مسفا) له پيل ۲۰۰۳ کال راهيسې د دوو کلونو په اوږدو کې ۱۵ پرچونو مالي خدمتونو موسسو نږدې يو ميليون پورونه چې ۴۸۳ ميليونه ډالره کيږي وېشلي دي. نوموړو د پرچونو مالي خدمتونو موسسو د ۲۳ ولايتونو په ۱۱۱ ولسواليو کې ۲۶۱ څانګې پرانستي دي. د دې څانګو مشتريانو کابو په سلو کې ۷۰ يې ښځې دي او همدا ډول د ۱۸۵۰ کار کوونکو له ډلې څخه ۴۳ فيصده يې ښځې مامورينې جوړوي. د پورونو د پرېکولو اندازه يې په

ټوليزه توګه په سلو کې ۹۰ ده. د پورونو د ورکونې برسېره، نوموړو د پرچونو مالي خدمتونو موسسو د ۴۲۲،۰۰۰ څخه زياتو ۱۱،۵ میلونه ډالره د سپما (پس انداز) په توګه زېرمه کړي دي. دا سيستم اوس ۳۶۱۰۰۰ فعال پور اخيستونکي لري.

## مالي معلومات

| ۱۳۸۶ کال | | | |
|---|---|---|---|
| د ۱۳۸۶ کال منل شوې بودجه | د ۱۳۸۶ کال ټوله لاس ته راغلې پانګه | د ۱۳۸۶ کال ټول اټکلي لګښت | بسپنه ورکوونکي |
| ۵۰،۲ میلونه امریکايي ډالره | ۵۰،۲ میلونه امریکايي ډالره | ۴۲،۲ میلونه امریکايي ډالره | د کانادا نړیواله پرمختیايي اداره، د پروګرامونو د مشورې او ارزونې ډله، د سویډن نړیواله پرمختیايي اداره، د انګلستان نړیواله پرمختیايي اداره، د امریکا نړیواله پرمختیايي اداره، نويب |
| ۱۳۸۷ کال | | | |
| د ۱۳۸۷ کال لپاره وړاندیز شوې بودجه | د ۱۳۸۷ کال لپاره تر اوسه ټوله لاس ته راغلې پانګه | د بودجې کمښت | بسپنه ورکوونکي |
| ۶۸.۲ میلونه امریکايي ډالره | ۵۹،۷ میلونه امریکايي ډالره | ۸،۵ میلونه امریکايي ډالره | د کانادا نړیواله پرمختیايي اداره، د انګلستان نړیواله پرمختیايي اداره |



د مسفا د مشتريانو يوه غونډه.



د ننګرهار ولايت د بهسودو په ولسوالۍ کې د مسفا په مرسته د بايسکل جوړونې يوه هټۍ.



د ښځو لپاره د مالي خدمتونو د ارزونې جريان.

# د کلیو لپاره د څښاک د اوبو برابرولو او روغتیا ساتنې ملي پروګرام
# (RuWatSan)



د کندهار ولایت د بولدک په ولسوالي کې د څښاک د اوبو یوه جوړه شوي زېرمه، ۱۳۸۴

## شالید (پس منظر)

د کلیو د بیا رغاونې او پراختیا وزارت پټیلې ده چې د راتلونکو پنځو کلونو په ترځ کې د ۱۵ میلیونو څخه زیاتو کلیوالي وګړو ته د څښاک پاکې اوبه (د هر وګړي لپاره د ورځې ۲۵ لیتره خوندي اوبه) او د روغتیا ساتنې اسانتیاوې چمتو کړي. د دې لپاره چې دا موخه تر لاسه شي نو د کلیو د بیا رغاونې او پراختیا وزارت په پام کې لري چې په ټول هېواد کې کابو یو لک د څښاک د اوبو سرچینې د کلیو لپاره د څښاک د اوبو برابرولو او روغتیا ساتنې ملي پروګرام له لارې جوړې کړي. برسېره پردې د ۵ , ۲ میلونه کورنیو لپاره د اوبو څخه د مناسبې ګټې اخیستنې، پاکي او صفایي او روغتیا ساتنې زده کړې تر سره کړي او د عامې خبرتیا له لارې د خلکو پوهه د خوندي اوبو، او د هغو ناروغیو په هلکه چې د اوبو څخه منځته راځي لوړه کړي.

## بنسټیز دلیلونه

د څښاک د خوندي اوبو او روغتیا ساتنې آسانتیاوو ته لاس رسي د بشر د بنسټیزو حقونو څخه ګڼل کیږي. کورنیو او کلیوالي ټولنو ته د څښاک د خوندي اوبو او د روغتیا ساتنې د آسانتیاوو چمتو کول د دې سبب ګرځي چې د خلکو روغتیایي حالت ښه شي او په خلکو کې د مړینې شمېر چې د ناپاکو اوبو د ښبلو څخه د ولاړو شوو (زېږېدونکو) ناروغیو له امله منځته راځي لږ شي. په پایله کې وګړي کولاي شي د خپل روزګار او ورځني ژوند په چارو کې غښتلې او بشپړه برخه واخلي.



د څښاک د اوبو د انجنیرانو له خوا په بامیانو کې د ویستل شوی ځاه د اوبو د کیفیت آزمویل.

## موخې

د کلیو لپاره د څښاک د اوبو برابرولو او روغتیا ساتنې د ملي پروګرام موخې په لاندې ډول دي:

- کلیوالي ټولنو ته د پایښتناکه سرچینو له لارې د څښاک د اوبو برابرول او هغوئ ته د روغتیا ساتنې د اسانتیاوو چمتو کول.
- د څښاک اوبو د سرچینو د ژوند د مودې د اوږدوالي، فعالیت او ساتنې په هکله د کلیوالي ټولنو ظرفیت پیاوړي کول څو د څښاک د اوبو او روغتیایي اسانتیاوو د پایښناکه استعمال جوګه شي.
- د عامه وګړو د روغتیا ساتنې د پوهې او په چاپیریال کې د ناروغیو د مخنیوي د لارو چارو سمون.

## د پلي کولو لارې چارې

د یوه لارښوونکي وزارت په توګه د کلیو د بیا رغاونې او پراختیا وزارت د دې مسؤلیت لري ترڅو دا یقیني کړي چې هغه پالیسي او پلانونه چې د پنځه کلن ملي پلان په چوکات کې د څښاک د اوبو په هکله په ګوته شوي دي پخپل وخت ترسره شي. د کلیو د بیا رغاونې او پراختیا وزارت د څښاک اوبو د پالیسي جوړولو، پلانګذاري او پراختیا ورکولو، د منابعو تیارول او وېشل، نظارت او ارزیابی او د معلوماتو د تنظیمولو عمومي دندې په غاړه اخیستي دي. همدا ډول، د عامې روغتیا، د ښځو د چارو، د ښوونې او روزنې او د حج او اوقافو د وزارتونو سره نږدې اړیکې ټینګې شوي دي ترڅو په اعظمي توګه دا خدمتونه ډېرو سیموته په ګړندي او د لګښت له پلوه په اغېزمنه توګه د اوبو د رسولو او د ناروغیو د خپرېدو د مخنیوي په برخه کې ترسره شي.

د کلیو د بیا رغاونې او پراختیا وزارت  د څښاک د اوبو د برابرولو او د روغتیا ساتنې څانګه دا ډول پروژې ترسره کوي. په عمومي توګه، د څښاک د اوبو او روغتیا ساتنې د آسانتیاوو جوړول د ټولنو د سنبالونې، د روغتیایي او پاکي په هکله معلومات، او د بیا رغاونې او ساتنې د روزنې سره تړاو لري ترڅو د هغو څخه اعظمي روغتیایي ګټې واخیستلې شي او د نوموړو آسانتیاوو پایښتناکي یقیني شي. دا پروګرام محلي تکنالوژۍ او کړنلارې پکاروي. د دې خدمتونو د پلي کولو لپاره د اسانتیاوو برابرول د مرستندویه ملګرو (FPs)، غیر حکومتي موسسو او خصوصي سکتورونو په غاړه ده. هغوئ د کلیوالي ټولنو سره د نوموړو پروژو په عملي کولو کې مرسته کوي. د کلیو د بیا رغاونې او پراختیا وزارت د سنبالوونکي (تنظیموونکي)، اسانتیا برابرونکي او د قرار دادیانو د کار د کیفیت د نظارت او ارزونې دنده په غاړه لري. همدا ډول د کلیو د بیا رغاونې او پراختیا وزارت د قوي غیر حکومتي موسسو او خصوصي سکتور د پرمختیا او پیاوړتیا ملاتړ کوي کوم چې په کلیوالي سیموکې د اوبو انجنیران چمتو کوي او د نوموړو آسانتیاوو د ساتنې روزنه ورکولای شي.



د پکتیا ولایت د زرمت په ولسوالي کې د روغتیا ساتنې روزنه، ۱۳۸۳.

## تر ننه پورې د لاسته راوړنو لنډیز

- **د څښاک د اوبو د سکتور لپاره د یوه ملي چوکات منځته راوړل:** د هېواد د پنځه کلنې ملي پالیسي چوکاټ جوړ او ومنل شو. د ملي پلان او پالیسي سره د سمون لپاره د حکومتي موسسو جوړښت داسې عیار شوي ترڅو د څښاک د اوبو په سکتور کې د عامه پانګه اچونې ته آسانتیا برابره کړي.

د کلیو د بیا رغاونې او پراختیا وزارت پدې برخه کې لارښوونکي رول لوبولي او خپل ظرفیت یې پیاوړې کړیدي ترڅو د څښاک د اوبو او د روغتیا ساتنې پروژې اداره کړي او اړونده پالیسیو او کړنلارو ته پراختیا ورکړي.

- **د څښاک د اوبو د سرچینو جوړول:** د دې پروګرام له لارې ۱۱۳۷۱ د څښاک د اوبو څاګانې کیندل شوي او ۸۵۹ لاسي پمپونه په کلیوالي سیمو او ښوونځیو کې لګول شوي دي چې د هغو څخه په ټول هېواد کې د یو میلیون څخه ډېر

وګړي ګټه اخلي. تر نه پورې ۵۹ د څښاک د اوبو د بمبو پروژې (شبکې) چې 1989925 وګړي ترې ګټه اخلي جوړ شوي دي. سر بېره پردې ۲۵۷۸ د څښاک د اوبو ژېرمې جوړې شوي او یا بیا رغاول شوي دي چې د هغو څخه کابو ۵ , ۲ میلونه وګړي ګټه اخلي.

- **د روغتیا ساتنې په هکله روزنه او د پاکي او صفایي په برخه کې اسانتیاوې:** ټول ټال ۲۳۸۸٤ خاک اندازونه په کورونو او یا هم ښوونځیو کې جوړ شوي دي چې له هغې څخه ۱٦۷۱۸۸ وګړي او ماشومان ګټه اخلي. همدا ډول د کلیو لپاره د څښاک د اوبو برابرولو او روغتیا ساتنې ملي پروګرام په ټول هېواد کې د ۱۰ میلونو څخه زیاتو وګړو ته د روغتیا ساتنې په هکله روزنه ورکړي ده.
- **د پاکي او صفایي، او د څښاک اوبو په هکله ځانګړې روزنه:** د دې لپاره چې دا خبره یقیني شي چې د پاکي او صفایي، او څښاک اوبو په هکله پروژې د کلیوالي ټولنو اړتیا پوره کولای شي او پر روغتیا او د چاپېریال په پاک ساتنه کې پایښتناکه اغېزې ښندي، د دې پروګرام له لارې ۳۵۰۰ د وزارت مامورینو او همدا ډول د غیر حکومتي موسسو او شخصي شرکتونو کارکوونکو ته په مختلفو برخو کې روزنه ورکړل شوې ده. د دې ډول روزنیزو کورسونو عنوانونه په لاندې ډول دي: د پالیسي جوړول، پلان جوړول، اداره، د کلیوالي ټولنو سنبالونه او تیارونه، سلا کول او د پاکي او صفایي په هکله روزنه ورکول، د روغتیا ساتنې پوهنه، او همدا ډول د اوبو د انجنیرۍ او اوبو پوهنې (هایدرولوژۍ) او د څښاک د اوبو د څاګانو د جوړولو تخنیکونه او بنسټونه (اساسات).



د خوست په ولایت کې د څښاک د اوبو یوه جوړه شوي څاه، ۱۳۸۴.

## د ۱۳۸۷ کال لپاره پلان


- د دې لپاره چې د هېواد په ټولو کلیوالي برخو کې د څښاک پاکې اوبه چمتو شي د اوبو ۷۸۵۲ د مختلفو سرچینو لکه د اوبو د بمبو، څاګانو او شبکو جوړول.
- ۱٦۰۹۲ خاک اندازونو جوړول او د ۹۸۱۵۰۰ څخه د زیاتو کسانو لپاره د روغتیا ساتنې روزنه ورکول ترڅو په کلیوالي سیمو کې د پاکي او صفایي هلې ځلې لا پیاوړې شي.
- په ۲۱۷ کلیوالي سیمو کې د اوبو د سرچینو د ساتنې د میکانیزم منحته راوړل ترڅو د څښاک د اوبو د آسانتیاوو پایښتناکي یقیني شي.



د پکتیا ولایت د لجه منګل په ولسوالی کې د یوي ژورې څاه کیندل.

## مالي معلومات

| ۱۳۸۷ کال | | | |
|---|---|---|---|
| د ۱۳۸۷ کال لپاره وړاندیز شوې بودجه | د ۱۳۸۷ کال لپاره تر اوسه ټوله لاس ته راغلې پانګه | د بودجې کمښت | بسپنه ورکوونکي |
| 65 میلونه امریکایي ډالره | 16,5 | 48,5 | د افغانستان د بیا رغاونې وجهي صندوق، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمشنري، د ماشومانو لپاره نړیوال وجهي صندوق، د سویس پرمختیایي اداره، د امریکا نړیواله پرمختیایي اداره |



د پکتیا ولایت د ډنډ پټان په ولسوالی کې جوړ شوي خاک اندازونه.

# د سیمه ییزې پراختیا ملي پروګرام

# (NABDP)

## شالید:

د سیمه ییزې پراختیا ملي پروګرام په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پراختیایي **(UNDP)** یوه برخه او د کلیو بیا رغاونې او پراختیا وزارت یو له اوو لومړنیو او یو له بل سره نږدې تړاو لرونکیو ملي پروګرامونو او پروژو له جملې څخه دی.
د سیمه ییزې پراختیا ملي پروګرام د دویم پړاو موخه دا ده چې د افغانستان په کلیوالو سیمو کې د غریبۍ کچه په دوامداره ډول راټیټه کړي او د ژوندانه د سطحې په لوړولو کې مرسته وکړي. پدې ډول چې ولس ته د ولسي ادارو په مرسته دا وړتیا ور وبښي چې خپلې اړتیاوې او لومړیتوبونه پیدا او په ګوته کړي او هم دولت د دې جوګه کړي چې په کلیوالي سیمو کې د بیا رغاونې او پراختیا له هغو کارونو سره چې په همهغږۍ، د خلکو په نظر کې نیولو او ګډون پرمخ وړل کېږي، مرسته وکړي.
د دې پروګرام ټولیزه تګلار دا ده چې د کلیوالې پراختیا لپاره د یو جامع (ځو سکتوریز، ځو طبقه یي او ځو اداره یي)، منسجم، غریبۍ له منځه وړونکې او ودې رامنځته کوونکې لارې چارې سره د پلانونو او پلي کولو د یوه همغږي چوکاټ په رامنځته کولو مرسته وکړي.
د سیمه ییزې پراختیا ملي پروګرام د لاندې څلورو له یو بل سره نږدې تړاو لرونکیو برخو له لارې پلی کېږي:



د کندهار په دامان ولسوالی کې د ترنک پر سیند د ۱۵۰ متره اوږده پله د جوړېدو کار روان دی.

## د ټولنې پیاوړي کول:

دا برخه د ولسوالیو پراختیایي شوراګانو، د ولسوالیو پراختیایي پلانونو او د ولایتي پراختیایي پلانونو په جوړولو او همدا راز د لنډمهاله افغان ملي پراختیایي تګلار د پیاوړي کولو په موخه د ولایتي مشورو د پروسې په تنظیمولو او پرمخ وړلو کې مرسته کوي.

## اقتصادي بیارغاونه:

دا برخه د کلیو بیارغاونې او پراختیا وزارت وړتیا لوړوي تر څو د اقتصادي بیارغاونې سیمه ییزې پالیسۍ او تګلارې جوړې او په منظم ډول نوې کړای شي، د اقتصادي پانګونې، د غریبۍ د کچې راټیټولو او د ژوندانه د سطحې د لوړولو پر وړاندې موجود خنډونه بیامومي او په سیمه ییز، ولایتي او د ولسوالیو په کچه د یوه جامع کلیوالي پراختیایي پلان جوړونې لپاره چوکاټونه (اډانې) رامنځته کړي.

## د اداري ظرفیتونو لوړول:

دا برخه د کلیو بیارغاونې او پراختیا وزارت اداري ظرفیتونه او تخنیکي مهارتونه پیاوړي کوي تر څو د دې جوګه شي چې په هره برخه کې د کلیوالي بیارغاونې او د معیشت لاښه کولو ورسپارل شوې دنده په په خورا اغېزمنتوب سره سر ته ورسوي.



د جوزجان ولایت په اقچې ولسوالی کې د ۱۰۰۰۰ لیټرو په ظرفیت د اوبو زېرمه ګټې اخیستنې ته وړاندې شوه.

## د پروژو پلي کولو ملاتړ:

**دا برخه د کلیو بیارغاونې او پراختیا وزارت د پروژو پلي کولو وړتیا لوړوي. داسې چې څنګه له خپلو امکاناتو او د عامو خلکو او خصوصي سکتور له امکاناتو په ګټه اخیستنه په اغېزمنه توګه اقتصادي بیارغاونیزې او کلیوالي پراختیایي پروژې تنظیم او پلې کړای شي. پر دې سربېره د سیمه ییزې پراختیا ملي پروګرام (NABDP) د ناقانونه وسلوالو ډلو د بې وسلې کولو د پروسې DIAG په پلي کولو کې هم مرسته کوي. د دې پروسې موخه دا ده چې ناقانونه وسلوالې ډلې په خپله خوښه د کلیوالي پراختیایي پروژو په بدل کې وسلې سپارلو ته اړباسي او یو امن او سوکاله چاپېریال رامنځته کړي. د سیمه ییزې پراختیا ملي پروګرام چې د کلیو بیارغاونې او پراختیا وزارت لخوا پرمخ وړل کېږي او د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام یې مالي ملاتړ کوي، د ډیاګ پروسې په پلي کولو کې د یوه مرستندوی پروګرام په توګه غوره شوی. د دې پروګرام اصلي پلي کوونکې اداره د کلیو بیارغاونې او پراختیا وزارت دی او د پروګرام د پرمخ بیوونکې ډلې مالي لګښتونه په مستقیمه توګه د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام لخوا برابرېږي.**

## لاسته راوړنې:

بیارغاونه:

- د سیمه ییزې پراختیا ملي پروګرام د خپل دویم پړاو په اوږدو کې تر دې دمه له ۴۶۸ پلان شویو زېربنایي پروژو څخه ۲۲۹ پروژې بشپړې کړې، ۱۷۹ رواني او پاتې ۶۰ په نږدې راتلونکې کې پیلېدونکې دي.
- په هلمند کې د اوبولګولو د ۱۹ پروژو تړون لاسلیک شو.
- هغه شپږ پروژې چې په جلال اباد کې سروې شوې وې اوس د ډیزاینولو په پړاو کې دي.
- د یوولسو بیارغاونیزو پروژو اسناد چمتو شول او د اروزګان د ولسوالیو پراختیایي شوراګانو ته د لاسلیک لپاره واستول شول.
- له پلو شویو پروژو څخه د ټولو ګټه اخیستونکیو شمېر تر ۲,۵ میلیونو پورې رسېږي.

د ظرفیتونو لوړول:

- تر دې دمه په ۲۸۶ ولسوالیو کې پراختیایي شوراګانې جوړې شوي چې هرې یوې د خپلې ولسوالۍ لپاره پراختیایي پلانونه هم جوړ کړي دي.
- د لغمان، پنجشیر، کندهار او بلخ د ۴۱ ولسوالیو پراختیایي پلانونه زموږ پر ویب سایټ کتلی شئ. هر څوک په اسانۍ زموږ ویب سایټ **( www.mrrd.gov.af/nabdp )** کتلی شي او خپل وړاندیزونه رااستولای شي.
- د **۵۲** ولسوالیو پراختیایي پلانونه د اپډیټ، ژباړې او لنډیزونو جوړولو په بېلابېلو پړاوونو کې دي.
- د سیمه ییزې پراختیا ملي پروګرام د ټولنې پیاوړي کولو څانګې د پېرلو او مالي څانګو په مرسته د پېرلو او مالي تنظیم روزنیز مواد برابر کړي.
- د اداري ظرفیتونو لوړولو څانګې هغو روزونکیو ته اداري روزنه ورکړه چې په نږدې وخت کې به په هره ولسوالۍ کې د ولسوالۍ پراختیایي شوراګانو ته همدغه اداري روزنه ورکوي.
- هغه روزنیز مواد چې د ژباړې لپاره استول شوي و، اوس د کره کتلو په درشل کې دي او په نږدې وخت کې به چمتو شي.



د ننګرهار ولایت د جلال اباد ښار لویدیځ ته د یو روغتیایي کلینیک د جوړېدو کار روان دی.

- د پروژې د سایکل اداره کولو روزنیز مواد د وزارت د بېلابېلو ریاستونو د مامورینو په واک کې ورکړل شول.
- د سیمه ییزې پراختیا ملي پروګرام خپلې د اداري ظرفیتونو لوړولو هڅې د کلیو بیارغاونې او پراختیا وزارت د پرسونل اداري او تخنیکي مهارتونو لوړولو ته ور اړولې دي. د سیمه ییزې پراختیا ملي پروګرام د دې وزارت له بېلابېلو ریاستونو سره د وزارت ستراتیژیکي موخې ته د عملي بڼې ورکولو په برخه کې مرسته کړې. دوی د خپل

کار په بهیر کې د ریاستونو غتې دندې نوي کړي او د هر ریاست لپاره یې په اداري جوړښت کې داسې سمونې او بدلونونه رامنځته کړي چې په ښه توګه ستراژیکې موخې لاسته راوړلای شي. په پایله کې دا دی اوس د کلیو بیارغاونې او پراختیا وزارت مرکزي ریاستونو دومره وړتیا لاسته راوړې چې د ۱۳۸۷ لمریز کال لپاره د عملیاتي پلانونو پروسه پخپله پرمخ بیولای شي.

- د کلیو بیارغاونې او پراختیا وزارت د ټولو ولایتي ریاستونو د وړتیا ارزونه وشوه چې وروسته به د هر ریاست لپاره د ظرفیت جوړونې پلان جوړ شي.
- د کلیو بیارغاونې او پراختیا وزارت پورې اړوند د ولس لخوا رهبري کېدونکي د پراختیا ریاست، کلیوالو سیمو ته د سړکونو غزولو پروګرام، د کلیوالي معیشت او انرژۍ ریاست او نورو د اداري ظرفیتونو په لوړولو کې د سیمه ییزې پراختیا ملي پروګرام مرسته کړې.
- د کلیو بیارغاونې او پراختیا وزارت له ګڼ شمېر ریاستونو سره د پلي کولو د ستراتیژیك متریکس په رامنځته کولو او جوړولو کې مرسته شوې او لاربښوونې ورته برابرې شوې.
- په ۱۷ ولایتونو کې د ولایتي پراختیایي کمیټو غړو ته د چمتووالي روزنه ورکړل شوه.

سیمه ییزه اقتصادي بیا رغاونه:

- د هېواد د لویدیزې سیمې لپاره د زعفرانو، وریښمو او کشمېرې درې سوداګریز پلانونه چې ډاکار چمتو کړي، زموږ تر ګوتو راسپدلي، او په پلانونو کې زموږ د نظرونو د ځایولو لپاره مو بېرته ډاکار ته ورلېږلي.
- د هېواد په مرکزي سیمه کې د کچالو، غالیو او ګرځندوی د کاروباري مواقعو د تخنیکي او اقتصادي شونتیا راپورونه ارزول شوي دي.

لومړیتوبونه:

- د امکاناتو چمتو کول
- د هغو لومړیتوب لرونکیو پروژو چې اوسمهال یې کار روان دی، بشپړول
- د کلیو بیارغاونې او پراختیا وزارت او نورو هغو حکومتي ادارو چې په پراختیایي کارونو بوخت دي، د ظرفیتونو، قابلیتونو او اعتبار لوړول جریان لري.
- د پلان جوړولو او انسجام له پروسو سره روانه مرسته به د ولایتونو او ولسوالیو په کچه په کارونو کې د خلکو ګډون، شفافیت او حساب ورکونه رامنځته کړي.
- د تجربې په ترلاسه کولو به په کارونو کې کافي همغږي رامنځته شي، مدني ټولنه او خصوصي سکتور به ښې پایلې ولري او ورسره به دواړه برخې ښه وده وکړي. د پلان جوړولو په پروسه کې د حکومت د ټولو پوړونو (اجزاوو) ګډون دا یقیني کوي چې له لرو پرتو سیمو (کلیو) لاسته راغلي لومړیتوبونه به د حکومت د پلان جوړولو او بودیجې په سایکل کې راونغښتل شي.
- د سیمه ییزې پراختیا ملي پروګرام د کلیو بیارغاونې او پراختیا له وزارت سره دا مرسته کوي چې په افغانستان کې د کلیوالي پراختیا، لکه د هغو سیمو لپاره چې پخوا په کې کوکنار کرل کېدل د متبادل معیشت برابرول او یا د وسلوالو ډلو بې وسلې کولو، پر وړاندې لومړني خنډونه بیامومي او له منځه یې یوسي.

## مالي معلومات:

| د ۲۰۰۸ کال له جنوري تر ډسمبر پورې | | | |
|---|---|---|---|
| ټوله پلان شوې بودیجه | موجوده بودیجه | د بودیجې کمښت | مرسته ورکوونکي |
| ۱۰۴ میلیونه امریکایي ډالر | ۷۱ میلیونه امریکایي ډالر | ۳۳ میلیونه امریکایي ډالر | کاناډا، بلجیم، ناروې، جاپان، ډایاګ، د ملګروملتونو پراختیایي پروګرام، ډیفیډ، هالینډ، د امریکې د متحدو ایالتونو د نړیوالې پراختیا اداره |



په وردګو کې د ولایتي پراختیایي پلان جوړولو په بهیر کې د ښځو ونډه



د هغه ورکشاپ یوه ځنډه چې د کلیو بیارغاونې او پراختیا وزارت د پلان ریاست مدیران د دې جوګه کوي چې خپله کلنۍ تګلار جوړه کړای شي.



په هلمند ولایت کې د خلکو استازي د ولایتي مشورو په یوه ناسته کې سره راغونډ شوي دي.

# د څارنې ملي سیستم
# (NSS)



په کندهار کې د ملي خطر او زیانمننې د یوه روزنیز ورکشاپ ګوښه، ۱۳۸۴

## شالید (پس منظر)

د څارنې د ملي سیستم پروژه چې رسمي نوم یې د روزګار او لوږې سره د مبارزې او د خوراکي توکو د څارنې د ملي سیستم پروژه ده په ۱۳۸۲ کال کې طرح شوې وه چې د مناسبو ارقامو د ټولولو او د هغې د تحلیل او تجزیې لپاره کړنلارې او اداري تدبیرونو منځته راوړل یقیني کړي. د څارنې د ملي سیستم لومړنی پړاو د ۱۳۸۲ کال د سنبلې څخه د ۱۳۸۳ کال د دلوې د میاشتې پورې پلي شو. د لومړني پړاو د لاسته راوړنو په رڼا کې د دې پروژې دویم پړاو د ۱۳۸۳ کال د حوت په میاشت کې پیل او د نورو دولتي موسسو لکه د اقتصاد په وزارت کې د مرکزي احصایې د دفتر سره په نږدې همکاري خپلو فعالیتونو ته پراختیا ورکړه.

## بنسټیز دلیلونه

د څارنې ملي سیستم د حکومت، ملي او نړیوالو مرستندویه موسسو لپاره د معلوماتو هر اړخیزه او پر تجربو ولاړه سرچینه ده. څو د یو پیاوړې ستراتیژۍ د منځته راوړلو او د پرمختیایي هلوځلو د لارې د ټاکلو د سمون لپاره د روزګار د ښه کولو، ټولنیز خوندیتوب (مصؤنیت اجتماعي) او د بېوزلۍ د راټیټولو په برخه کې تري ګټه واخلي.

## موخې

د څارنې د ملي سیستم موخه دا ده چې د بېوزلۍ، د خوراکي موادو خوندیتوب، د روزګار اړونده ظرفیتونو پیاوړتیا او د بېړنیو او ناڅاپي پېښو په هکله یوه قوي د څارنې سیستم منځته راوړي تر څو د حکومت او د پرمختیایي مرستندویانو لپاره هغه ضروري معلومات چمتو کړي چې په ملي سویه د بېوزلۍ د راټیټولو هڅې چې د افغانستان تر ټولو زیانمنونکو سیمو لوري ته تر سره کیږي، ګړندي او سمون ورکړي.

## د پروګرام د پلي کولو لارې چارې



په جلال آباد کې د ملي خطر او زیانمننې د ارزونې ساحوي روزنه او آزمایښتي سروې، ۱۳۸۴

- د څارنې ملي سیستم په پام کې لري چې لاندینیو څلورو برخو کې خپلې موخې لاسته راوړي: د ملي خطر او زیانمننې ارزونه (NRVA)، د وختي خبرولو ملي معلوماتي سیستم، بېړني ارزونې (څېړنې) او ځانګړې څېړنې. نوموړي فعالیتونه د څارنې د ملي سیستم د دوو څانګو لخوا چې د کلیو د بیا رغاونې او پراختیا په وزارت او د احصایې په مرکزي اداري کې موقعیت لري، پلي کیږي.
- د هغو تجربو څخه چې د څارنې د ملي سیستم په لومړي پړاو کې ترلاسه شوي دا جوته شوه چې په ملي سویه د معلوماتو چمتو کول په ملي سویه وسیلو ته اړتیا لري کوم چې په عصري سامانونو سنبال او داسې روزل شوي مامورین ولري چې په سروې، د معلوماتو په اداره کولو، تحلیل او تجزیې او د معلوماتو په خپرولو کې مهارت ولري. نو ځکه د څارنې ملي سیستم دویم پړاو هغه حکومتي مامورین په ګوته کوي چې د هغوئ دندې د روزګار د ښه کولو او بېوزلۍ د ټیټولو په برخه کې د معلوماتو غونډول دي او همدا ډول د ملکې مامورینو مشران، د پروګرام اداره کوونکي (مشران) او په حکومت کې د پالیسۍ جوړونکي کسان تر خپلې پاملرنې/روزنې لاندې نیسي.
- د څارنې د ملي سیستم د لومړنی او دویم پړاو یوه ځانګړتیا د معلوماتو د شریکولو د کړنلارې د پرمختیا په هکله د هغې روڼتوب (شفافیت) او پرانیستوب دي. د دې پروژې د څو اړخېزو برخه والو د یو ځای کارکولو ځانګړتیا به په یقیني توګه وساتله شي.

## تر ننه پورې د لاسته راوړنې لنډیز



په جوزجان کې د څارنې د ملي سیستم د څانګې پرانیستل، ۱۳۸۲.

- **په ټول هېواد کې د زیانمننې څېړنې:** د ۱۳۸۲ کال د ملي خطر او زیانمننې سروې د ارقامو (ډېټا) ټولول او د هغې تحلیل او چاڼول د څارنې د ملي سیستم د لومړنی پړاو د خورا ارزښتناکو لاسته راوړنو څخه شمېرل کیږي. د نوموړې سروې ارقام د مصنوعي سپوږمکیو (ستلایت) له لارې د نباتي فرش د ډېټا او د بازار د قیمتونو څخه په ګټه اخیستلو سره بډاي او نوي شوي. د نوموړو معلوماتو پر بنسټ د ۱۳۸۴ کال د کښت د موسم په ترڅ د وچکالۍ په هکله بېړنی هلې ځلې طرح او تر لاس لاندې و نیولې شوې. په ۱۳۸۴ کال کې د ملي خطر او زیانمننې د ارزونې سروې د یوه ساده پوښتنلیک پواسطه تر سره شوه کوم چې د سکنر په واسطه لوستل کیداي شي. په دې سروې کې د دې لپاره چې د ولایتونو په سویه احصاییه تر لاسه شي د پوښتل شوو کورنیو شمېر زیات شو. د نوموړي سروې په ترڅ کې په ټول هېواد کې ۳۲،۰۰۰ کورنی په ۲،۶۲۹ کلیو کې پوښتلې شوي دي. د ۲ , ۱ میلونو څخه زیاتې د سروې پوښتنپاڼې د هېواد د ۳۹۸ ولسوالیو څخه په ۳۴ ولایتونو کې راټولې شوي. د دې لپاره چې راټول شوي ډېټا (ارقام) هر څه ژر او په لوړ کیفیت په کمپیوتر کې داخل (خوندي) شي نو د ډېټا رسولو (ډېټا انټري) عملیه د لاس پر ځاي د یوه ماشین په واسطه چې د ډېټا د لوستلو سکنر بلل کیږي تر سره شوه. د ملي خطر او زیانمننې ارزونې د سروې سربېره، د څارنې ملي سیستم د کوچیانو د ملي څو اړخېزه (سکتوري) ارزونې په ډیزاینولو، د ډېټا په ټولولو او د هغې په چاڼ او شاربلو (تحلیل او تجزیه) کې هم مرسته کړې ده.
- **د وختي خبرونې د معلوماتي سیستم جوړول:** د وختي خبرونې معلوماتي سیستم چې په ولایاتو او ولسوالیو کې د بازار د قیمتونو، د کلیوالي کورنیو د بېځایه کېدو، او همدارنګه د خوراکي شیانو او اوبو د کمښت او نشتوالي په هکله نوي او منظم معلومات چمتو کوي، په ۷ ولایتونو کې د څارنې ملي سیستم د یوه آزمایښتي څېړنې د پایلو پر بنسټ منځته راغلې ده. د

خوراکي توکو د خونديتوب د څېړنې سيستم چې د ملگرو ملتونو د خوړو پروگرام سره په ملگرتيا منځته راغلی، د دې سيستم د يوې برخې په توگه جوړه شوې ده. په ساحه کې د سروې چارې يې بشپړې شوي دي او د ارقامو تحليل او تجزيه به يې د ۱۳۸۴ کال د جدي په مياشت کې تر سره شي.

- **بېړنی څېړنې ( ارزونې):** د څارنې ملي سيستم د هېواد په ۱۲ وچکالي ځپلو ولايتونو کې د وچکالي په څېړنې کې برخه واخيسته او همدا ډول يې د ۱۳۸۳ کال د ځنگابن او ژمي په مياشتو کې د ۱۴ نورو ولايتونو د وچکالي په څېړنه کې د ارقامو د تنظيم (اداري)، تخنيکي تحليل او د معلوماتو د خپرونې چارې هم غږې (هم آهنگي) کړي. همدا ډول د څارنې ملي سيستم د هغو معلوماتو پر بنسټ چې د نوموړو څېړنو څخه په لاس راغلي وه د وچکالي په مقابل کې د غبرگون په هکله د پاليسي سپارښتنه او ملاتړ کړي دي.
- **د ارقامو تحليل او ملاتړ:** د څارنې ملي سيستم د يو شمېر ډېرو پرمختيايي فعاليتونو لپاره تحليلي او احصاييوي معلومات چمتو کړي دي. د بېلگې په توگه د څارنې ملي سيستم د کليو د بيا رغاونې او پراختيا وزارت/ د ملگرو ملتونو د پروژوي خدمتونو د اداري سره مرسته وکړه چې د ۱۳۸۲ کال د د ملي خطر او زيانمننې د ارزونې د ارقامو څخه په گټې اخيستلو سره د سړکونو په جوړولو کې د لومړيتوب د حق ورکولو په هکله د لگښت له پلوه يو اغېزمنه نمونه (ماډل) منځته راوړي. همدا ډول د څارنې ملي سيستم د انگلستان د نړيوال پرمختيايي اداري په غوښتنه د ملي خطر او زيانمننې د ارزونې د ډېټا پر بنسټ د کوکنارو د پوروړو بزگرانو لپاره د وړو پورونو پروژه منځته راوړه. د څارنې ملي سيستم د ملي خطر او زيانمننې د ارزونې د ۱۳۸۴ کال د لومړنيو معلوماتو له مخې د افغانستان د ملي پرمختيايي ستراتيژي (ANDS) او د دوه زرمې پرمختيايي موخو (MDGs) د راپورونو او د کليو د بيا رغاونې او پراختيا وزارت د ستراتيژيک پلان په چمتو کولو کې برخه اخيستې ده.
- **د ډېټا خپرونه:** د څارنې ملي سيستم، د ارقامو د خپرولو لپاره اغېزمن د برېښنايي خپرونې سيستم په لاندې توگه منځته راوړې دي: د زيانمننې د تحليل د څانگې ويب پاڼه (www.mrrd.gov.af/vau)، د زيانمننې د تحليل د څانگې د ياهو برېښنا ليک ډله (http://groups.yahoo.com/group/vau_mrrd) او همدا ډول په منظمه توگه د افغان د خوراکي توکو د خونديتوب د جال د مياشتنی خپرونې (www.fews.net) لپاره د معلوماتو چمتو کول.
- **د کاري ظرفيت پياوړتيا او روزنه:** په ولايتونو کې د څارنې ملي سيستم د آزمايښتي څېړنو په ترڅ کې د کليو د بيا رغاونې او پراختيا وزارت او د کرنې او څاروېو د روزنې د وزارت، د هر يوه څخه ۱۴ کسان او د روغتيا د وزارت پنځه تنه د ولايتي دفترونو مامورين د کمپيوتر، د روزگار ښه کولو او خوراکي توکو د خونديتوب د تحليل د تيورۍ، د ارقامو د راټولولو، په کمپيوتر کې د ارقامو د رسولو او د ارقامو د تحليل او راپور ليکنې په برخو کې روزلي دي. د څارنې ملي سيستم د ۵۰۰ څخه زياتو حکومتي او غير حکومتي سروې کوونکو ته د کليو د بيا رغاونې او پراختيا وزارت د ملي خطر او زيانمننې د ارزونې د سروې په ترڅ کې د روزگار او خوراکي توکو د خونديتوب او د ارقامو د ټولولو د کړنلارو (تخنيکونو) په هکله روزنه ورکړې ده. د بېړنيو ارقامو د ټولولو په هکله هم ۵۰ حکومتي او غير حکومتي سرويرانو ته روزنه ورکړل شوې ده. د زيانمننې د تحليل د څانگې څلور تنه غړي د ډېټابېس (د معلوماتو پانگه يا زېرمه)څخه د کار اخيستنې په مختلفو کمپيوتري مهارتونو کې روزل شوي. سر بېره پردې ۲۰ حکومتي مامورين د تيلې فورم د کمپيوتري پروگرام په وسيله د ډېټا سکننگ (چاپولو)، لوستلو او کره کولو (تصديقولو) په برخو کې روزل شوي دي. د څارنې د ملي سيستم په دويم پړاو کې خپلې تخنيکي مرستې د احصايې مرکزي اداري ته غزولي دي. د احصايې په مرکزي اداره کې يو داسې دفتر پرانستل شوي دي چې په ملي سويه د احصاييوي سروې گانو سره بوخت دي.



د ۳۹۸ ولسواليو څخه را ټولې شوي د سروې پوښتنليکونه.



د ملي خطر او زيانمننې د ارزونې د ارقامو د سکننگ جريان، ۱۳۸۴

## د ۱۳۸۵ کال لپاره پلان

- د کليو د بيا رغاونې او پراختيا وزارت، نورو حکومتي موسسو او ملي پروگرامونو او غير حکومتي موسسو سره په گډون د ۱۳۸۴ کال د ملي خطر او زيانمننې د ارزونې تحليل او تجزيه.
- د ډېټا خپرونې (شريکونې) د خپلمنځي سيستم منځته راوړل.
- د پاليسي په جوړولو او د پروگرام په پلانولو کې د ۱۳۸۴ کال د ملي خطر او زيانمننې د ارزونې د پايلو څخه گټه اخيستنه او ملاتړ.
- د ناوړه پېښنو (ناورين) د اداره کولو د معلوماتو د سيستم (DMIS) سره د معلوماتو په تحليلولو کې مرستې ته دوام ورکول.
- د ۱۳۸۴ کال د خوړو د خونديتوب د ارزونې د سيستم تحليلول ترڅو د ۱۳۸۵ کال د خوړو د خونديتوب د ارزونې د سيستم لپاره چې د ۱۳۸۵ کال د وختي خبرونې د معلوماتو د سيستم يوه برخه ده د اړتيا وړ مواد چمتو کړي.
- د بېړني غبرگون او د ناوړه پېښنو د تياري د څانگو سره په گډه د بېړنيو څېړنو د کړنلارې جوړول.
- د اړتيا وړو بېړنيو څېړنو او نورو څانگړو څېړنو تر سره کول.
- د څارنې د ملي سيستم د فعاليتونو په هکله د کليو د بيا رغاونې او پراختيا وزارت او د احصايې د مرکزي اداري د زيانمننې د تحليل د څانگې مامورينو ته د کاري ظرفيت د لوړولو روزنه.



د احصايې په مرکزي اداره کې د څارنې د ملي سيستم د دفتر يوه گوښه.

## مالي معلومات

| ۱۳۸۴ کال | | | |
|---|---|---|---|
| د ۱۳۸۴ کال منل شوې بودجه | د ۱۳۸۴ کال ټوله لاس ته راغلې پانگه | د ۱۳۸۴ کال ټول اټکلي لگښت | بسپنه ورکوونکي |
| ٤ , ۱ ميليونه امريکايي ډالره | ٤ , ۱ميليونه امريکايي ډالره | ۳۵ , ۱ ميليونه امريکايي ډالره | د اروپا کميسيون |
| ۱۳۸۵ کال | | | |
| د ۱۳۸۵ کال لپاره وړانديز شوې بودجه | د ۱۳۸۵ کال لپاره تر اوسه ټوله لاس ته راغلې پانگه | د بودجې کمښت | بسپنه ورکوونکي |
| ٤ , ۱ميليونه امريکايي ډالره | ٤ , ۱ميليونه امريکايي ډالره | نه لري | د اروپا کميسيون |

# د بشري بېړنيو مرستو چمتو کول
# (EHRI)

## شالید (پس منظر)

افغانستان د طبیعي موقعیت له مخې د طبیعي ناوړه پېښو (ناورین) سره مخېدونکي هېواد دی، او په سلو کې ۷۰ وګړي يې په داسې ځایونو کې اوسېږي چې زلزلو، وچکالی، سېلاوونو، د ځمکې د ښوويېدو، د واورې د ښوويېدو او د سختو ژمو سره مخامخ دي. دا ډول طبیعي ناورینونه د بېوزلۍ د زیاتېدو، د زیانمنتې د لوړوالي، د عاید د لاسته راوړنې د چانس د لږېدو او د بنسټیزو جوړښتونو د حالت د خرابېدو سبب ګرځي. په لنډه توګه ویلای شو چې طبیعي ناورینونه د افغانستان د پرمختګ او سوکالۍ په لاره کې ستونزې زېږوي. که چېرې دې ډول ناوړه پېښو ته مناسب غبرګون و نه ښودل شي نو دا ډول طبیعي او د انسان په لاس منځته راغلي ناوړه پېښې د افغاني ټولنو ژوند او روزګار ته لوی ګواښ دي او هغوئ د له منځه تلو او بېوزلۍ کندې ته ټېل وهي.

## بنسټیز دلیلونه

د طبیعي ناوړه پېښو په حالت کې چې د خلکو پر ژوند او روزګار ناوړه اغېزه کوي د ډېرو بېوزلو او ډېرو زیانمنونکو خلکو سره ملاتړ او د هغو مرستې ته وردانګل او هغو خلکو ته چې د خپل ځان سره مرسته نه شي کولای د مرستو نېغ په نېغه چمتو کول، ترڅو د هغوئ بشپړه مصؤنیت (خوندیتوب) ډاډمن شي.

## موخې

- د طبیعي ناورین په حالت کې د خلکو بېړنیو اړتیاوو ته چټک غبرګون ښودل ترڅو د خلکو کړاوونه لږ او زیان ځیلي زړونه ټکور شي.
- د طبیعي ناوړه پېښو په مقابل کې د کلیوالي خلکو د زیانمنتوب راټیټول.

## د پلي کولو لارې چارې

د دې پروګرام د پلي کولو لارې چارې د حالتونو پورې اړه لري او د پېښو د ډول او د پېښې د ځای پر بنسټ ورسره چلند کېږي. خو بیا هم د کلیو د بیا رغاونې او پراختیا وزارت په کلیوالي اغېزمن شوو سیمو کې د بېړنیو مرستو په سمبالولو او هم غبرګ کولو کې لارښوونکي رول لوبوي. د کلیو د بیا رغاونې او پراختیا وزارت په لاندینیو برخو کې د طبیعي ناورینو په مقابل کې خپل چمتو والي پیاوړی کړی دی:

- د مصیبتونو د ممکنه اغېزو د ټاکلو او په ګوته کولو لپاره د وزارتونو تر منځ د وختي خبرتیا او چمتووالي سیستم رامنځته شوی او پیاوړی شوی دی.
- د اوبو او هوا ارزونه او وړاندوینه (د واورې اندازه و باران).
- په کلیوالي سیمو کې د ناوړه پېښو د چټکو او بېړنیو اړتیاوو څېړنه او د هغې په هکله سپارښتنې او د مخنیوي او لږېدو لارې چارې.
- هغو زیانمنونکو ټولنو ته چې خپل ځان سره د مرستو کولو توان نه لري د مرستو چمتو کول او هم غبرګ کول.
- د طبیعي ناورینو لپاره د تیارۍ او چال چلند په هکله د ملي پیوستون د پروګرام د کلیوالي پرمختیایي جرګو (شوراګانو) روزل.

## تر نن پورې د لاسته راوړنو لنډیز

- **د وچکالۍ په ترڅ کې مرستې:** ۱۳۸۳ کال په هېواد کې د وچکالي شپږم کال وه چې د هېواد په تاریخ کې تر ټولو اوږده او ناوړه وچکالي ګڼله کېږي. د کلیو د بیا رغاونې او پراختیا وزارت کابو ۷۰،۰۰۰ ټنه خوراکي توکي نیږدې ۵ ,۳ میلیونه وچکالي ځپلو خلکوته چمتو کړي دي او نیږدې دوه میلیونه نورو وګړو ته يې د بېړني مرستې توکي وېشلي دي. د دې لپاره چې د خلکو بېړني اړتیا د څښاک د اوبو له پلوه پوره شي ۳،۹۴۶ د لاسي پمپونو درلودونکي څاګانې کیندل شوي، څلور د څښاک اوبو شبکې او ۶،۹۴۷ خاک اندازونه په ۳۴ ولایتونو کې جوړ شوي دي، چې د ۴۰۰،۰۰۰ څخه زیاتې کورنۍ د هغې څخه ګټه اخلي. سربېره پردې د ۹۵۵،۰۰۰ ډالرو ولایتي بېړنۍ پانګې څخه په کار اخېستلو سره ۳۲۶ ژورې او نیمه ژورې څاګانې کیندل شوي او ۳۶ د اوبو ټانکرونه پېرودل شوي او یا هم په کرایه نیول شوي دي ترڅو د ۲۷ ولایتونو په اغېزمنو برخو کې د څښاک پاکې اوبه چمتو شي.
- **ژمنۍ مرستې:** د تېرو دریو کلونو راهیسې د کلیو د بیا رغاونې او پراختیا وزارت زیانمنونکو کورنیو ته د ژمنیو مرستو چمتو کولو کې لارښوونکي رول لوبوي. د کلیو د بیا رغاونې او پراختیا وزارت په واسطه چمتو شوي ژمنۍ مرستې په لاندې ډول دي:
  - د ۱۳۸۱ – ۱۳۸۲ کلونو د ژمو په ترڅ (موسم) کې د هېواد د ۲۷ ولایتونو په ۸۰ ولسوالیو کې د ۶۰،۰۰۰ څخه زیاتو بېوزلو خلکو ته د غیر خوراکي توکو لکه ۳،۰۰۰ کېږدی، ۱۰۰،۰۰۰ کمپلې۱۱،۰۰۰ پلاستیکي ټوټې، ۱۴،۰۰۰ بخارۍ، ۱۸،۰۰۰ د لرګو د سکرو بوجۍ، او ۱۲،۰۰۰ دروازو او کړکیو چمتو کول.
  - د ۱۳۸۳ کال په ژمي کې د هېواد د ۲۶ ولایتونو په ۱۲۰ ولسوالیو کې زیانمنونکو کورنیو ته د ۲،۵۰۰ کېږدیو، ۶،۰۰۰



د ۱۳۸۳ کال د کب د میاشتې د سیمه ییزې ودې او پرمختیا د ملي پروګرام له خوا د کندز د کلاي ذال په ولسوالۍ کې د آمو سیند د غاړو د ببړنۍ ساتندویه دیوالونو جوړول.



د بامیانو ولایت د شهیدانو په ولسوالۍ کې د ۱۳۸۳ کال په ژمي کې د سړکونو څخه د واورې پاکول.



د لوګر ولایت د سپندوکځ د سړک څخه د ۱۳۸۳ کال د ژمي په ترځ کې د واورې لرې کول.

کمپلو او برستنو، ۳،۳۵۷ بوجي د لرګو د سکرو وېشل. همدا ډول په نوموړي ولايتونو کې د نړۍ د خوړو د پروګرام د کار په مقابل کې د خوړو تر پرورګرام لاندې ۲ , ٤ میلیونه وګړو ته ۶،۶۶۴ ټنه خوراکې توکي چمتو او وېشل شوي دي.

- د عامو ګټو د وزارت او د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو د اداري په ملګرتيا د هېواد په ۲۶ ولايتونو کې د ۲،۶۰۰ کيلومترو سړکونو څخه د واورې پاکول چې د هغو څخه اته میلیونه خلك ګټه اخلي. نوموړي کار د ۱۰،۰۰۰ وګړو لپاره د کارموندنې زمينه چمتو کړې او ۱۴۰،۰۰۰ د کار ورځې يې منځته راوړي دي.



د ۱۳۸۳ کال په ژمي کې په کابل کې بېوزلو کورنيو ته د لرګو د سکرو وېشل.

- **د سېلاوونو په ترڅ کې بېړنۍ مرستې:** د ۱۳۸۳ کال په ژمي کې د پرېمانه واورې، ترويلي کېدو وروسته په سيندونو کې د لويو سيلاوونو سبب شوي چې په دې برخه کې د کليو د بيا رغاونې او پراختيا وزارت لخوا چمتو شوي مرستې په لاندې ډول دي:
  - د بلخ، جوزجان، کندز او تخار د ولايتونو په ۱۶ ولسواليو کې د آمو د سيند د غاړو د ساتندوي دېوال جوړول کوم چې د ۵۰۰،۰۰۰ څخه د ډېرو کورنيو د کرنيزو ځمکو او کورونو د ساتنې سبب شوي دي.
  - د کابل د سيند د غاړو د ټينګولو لپاره د کابل ښاروالۍ ته ۱۰۰،۰۰۰ د شګو کڅوړو (بوجيو) او د هغو د ډکولو لپاره د ۳۳ زرو امريکايي ډالرو چمتو کول.
  - د هېواد په ۲۰ ولايتونو کې د لويو سيندونو څخه د ممکنه زيان د ژغورلو لپاره د ګبين د ۵،۰۰۰ بکسونو او د شګو د ۱۵۰،۰۰۰ کڅوړو (بوجيو) چمتو کول.
  - د هېواد د ۲۰ ولايتونو (بدخشان، بغلان، کندز، باميان، کنړ، نورستان، لغمان، تخار، ننګرهار، بلخ، کاپيسا، پروان، سمنګان، خوست، پکتيا، پنجشير، جوزجان، سرپل، فارياب، دايکندي) په ۸۰ ولسواليو کې ۱۲،۰۰۰ سيلاب ځپلو کورنيو ته د ۶،۲۰۰ کېږديو او ۷،۰۰۰ کمپلو وېشل.
- **راستنېدونکو او بېځايه شوو ته بېړني مرستې:** د ۱۳۸۳ کال په ژمي کې د کليو د بيا رغاونې او پراختيا وزارت د افغاني سرې مياشتې په ملګرتيا ۸۴۰ بې کوره کورنۍ د تخنيکوم، افشار او د کابل د ښاروالۍ د پنځم رياست د دفتر په حکومتي ودانيو کې په موقتي توګه ځاي پر ځاي کړل. د افغاني سرې مياشتې رياست نوموړو کورنيو ته خوراکي او غير خوراکي توکي چمتو کول.
- **د زيان منونکو وګړو لپاره د خوراکي توکو مرسته:** د کليو د بيا رغاونې او پراختيا وزارت په ۱۳۸۱ کال کې د لس میلیونو وګړو لپاره ۵۳،۰۰۰ ټنه خوراکي توکي، په ۱۳۸۲ کال کې ۹ , ٦ میلیونو وګړو لپاره ۲۳۴،۰۰۰ ټنه او په ۱۳۸۳ کال کې د ۲ , ٤ میلیونه وګړو لپاره ۶،۶۶۴ متريک ټنه خوراکي توکي وېشلي دي. نوموړي توکي د کليوالي ټولنو، وچکالۍ او يا نورو ناوړه پېښو ځپلو خلکو، کوچيانو، راستانه شوو کورنيو، بېځايه شوو خلکو، هغه ميندې او ماشومان چې د جدي خوار ځواکي سره مخامخ وه، د روغتون ناروغانو او د ښوونځيو زده کوونکو او ښوونکو ته وېشل شوي دي.



د ۱۳۸۴ کال د سپرلني سيلاوونو وروسته د تخار ولايت په شپږو ولسواليو کې د آمو د سيند پر غاړو د ساتندويه ديوال جوړول.

## د ۱۳۸۵ کال لپاره پلان

د کليو د بيا رغاونې او پراختيا وزارت به د طبيعي پېښو او د هغو د ممکنه خطرونو پر بنسټ ځپلو ژغورونکو هلو ځلو ته په تېره بيا په سخت ژمي، وچکاليو او د سيلاوونو د پېښېدو په حالت کې دوام ورکړي. همدارنګه د کليو د بيا رغاونې او پراختيا وزارت به د ځپل شوو سيمو اړينو کورنيو ته د نېغ په نېغه بشري مرستو په چمتو کولو او يا هم غبرګ کې خپله فعاله ونډه جاري ساتي.

## مالي معلومات

| ۱۳۸۴ کال | | | |
|---|---|---|---|
| د ۱۳۸۴ کال منل شوې بودجه | د ۱۳۸۴ کال ټوله لاس ته راغلې پانګه | د ۱۳۸۴ کال ټول اټکلي لګښت | بسپنه ورکوونکي |
| د تطبيق وړ نه دي | ۵ , ۱ ميلونه امريکايي ډالره | ۵ , ۱ ميلونه امريکايي ډالره | د کانادا نړيواله پرمختيايي اداره، د انګلستان نړيواله پرمختيايي اداره، د ملګري ملتونو ادارې، د امريکا نړيواله پرمختيايي اداره، د اروپا کميسيون |
| **۱۳۸۵ کال** | | | |
| نا ټاکلي | د ۱۳۸۵ کال لپاره تر اوسه ټوله لاس ته راغلې پانګه | د بودجې کمښت | بسپنه ورکوونکي |
| د تطبيق وړ نه دي | هيڅ | نا ټاکلي | نا ټاکلي |



د کليو د بيا رغاونې او پراختيا وزارت ته د ۱۳۸۴ کال په اوړي کې د سيلاو ځپلو کورنيو لپاره د نړيوالي بسپنې ورکوونکو له خوا د ورکول شوو کېږديو او کمپلو مرسته.